# په ایران کې د حجاب ضد لاریونونو په اړه غبرګون

د رژیم لخوا د ۲۲ کلنې مهسا امیني تر وژلو وروسته، چې د راپورونو له مخې د حجاب نه پر سرولو په جرم د پولیسو په توقیف کې وژل شوې، په دغه هېواد کې د روانو پېښو ځینو مهمو ټکو ته اشاره کوو:

1. د مهسا امیني وهل د اسلام له نظره حرام کار دی. اسلام هر ډول ډول شکنجه منع کوي. دا په اسلامي نصوصو کې روښانه ده. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

**إِنَّ اللهَ يُعَذِّبُ الَّذِينَ يُعَذِّبُونَ فِي الدُّنْيَا**

***ژباړه:*** *« هغه خلک چې په دې نړۍ کې خلک ربړوي، الله تعالی عذاب ورکوي».*

2. په ایران کې د پخوانۍ دورې ډېر شمېر سیکولاران شته چې د پخوانیو مستشرقینو په څېر پر اسلام تورونه لګوي، په حجاب او اسلامي ټولنیزو احکامو پسې درواغ تړي او اسلام تورنوي چې ګواکې پر ښځو یې ظلم کړی. مثلاً د سپټمبر په ۲۳مه په Britain’s Times ويبپانه کې د یوه خبریال، جینس ټرنر مقاله خپره شوې چې سرلیک یې «که حجاب را وپرځېږي، د ایران ظالم رژیم به ورپسې پرځېږي». د متن یوه برخه یې داسې ده: «حجاب یوازې د جامو یو اصل نه دی، بلکې یو ډول کنټرولوونکې وسیله ده چې د ټول ملت ترمنځ د ویرې خپرولو او نفاق رامنځته کولو لپاره طرح شوې». دا خبره ډېره بې ځایه ده چې اسلامي حجاب د ایران په څېر ظالمو حکومتونو په دوام کې مرسته کوي. دا ډول تورونه د نړۍ او نورو کلتورونو په اړه له بې بنسته، اسلام ضد او اروپايي محوره لید څخه راپورته کېږي او باید په لوړ آواز یې پر وړاندې مبارزه وشي.

3. دا خبره چې ګواکې د ایران رژیم د اسلامي احکامو پلي‌کولو او ساتنې ته ارزښت ورکوي، بېځایه ده. دا هغه رژیم دی چې له قصاب اسد سره یې د لسګونو زرو بېګناه سوري مسلمانانو په ټول‌وژنه کې مرسته کوله او لاسونه یې د یمن او عراق مسلمانانو په وینو رنګ دي. دوی همداراز هغه افغانان وژلي چې د ښه ژوند په لټه کې د دوی خاورې ته ور اوړي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

**«كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ؛ دَمُهُ وَمَالُهُ وَعِرْضُهُ»**

***ژباړه:*** *د مسلمان وینه، شتمني او عزت پر نورو مسلمانانو حرام دي. (رواه مسلم)*

4. داسې کسان شته چې په ایران کې د ښځو پر وړاندې د شته ستونزو لامل د حجاب او نورو اسلامي ټولنیزو اصولو پلي کول او د جنسیتي برابرۍ نه شتون بولي. په داسې حال کې چې اصلي لامل یې د ایلان تئوکراتیک رژیم دی چې د قران او سنتو د احکامو پر ځای د آخوندانو د غوښتنو او احکامو له مخې چلېږي. هر نظام، که هغه دیکتاتوري وي که ډیموکراسي، چې د انساني هوس او غوښتنو پر بنسټ حکومت وکړي، پایله به یې پر خلکو ظلم او له اساسي حقوقو څخه محرومیت وي. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**(وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أنزَلَ اللّهُ فَأُوْلَـئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ)**

*__ژباړه:__ او كوم خلك چې د الله د نازل كړي قانون سره سمه فېصله ونه كړي، هغوی ظالمان دي. [ سوره المائده: 45]*

5. د ايران له ظالم او جابر رژيم څخه د خلكو ناخوښي د درک وړ ده. خو په دغو لاريونونو كې ولې ځيني مسلمانې ښځې خپل حجابونه سبځي او په په عام محضر كې ناځي؛ ولې خپله ناخوښي او غوسه د الله تعالى -د دوى خالق او رب- د احكامو پر وراندي ښكاره كوي؟ له لاسونو او مخ پرته، د ښځې ټول بدن بايد پټ وي او نامحرم يې ونهويني؛ دا د ايران يا كوم بل رژيم امر نه، بلكې د الله سبحانه و تعالى امر دى چې په قران او سنتو كې روښانه راغلی. الله سبحانه وتعالى فرمايي:

**وَقُل لِّلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ آبَائِهِنَّ أَوْ آبَاء بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَائِهِنَّ أَوْ أَبْنَاء بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي أَخَوَاتِهِنَّ أَوْ نِسَائِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ أَوِ التَّابِعِينَ غَيْرِ أُوْلِي الْإِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ أَوِ الطِّفْلِ الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا عَلَى عَوْرَاتِ النِّسَاء**

*__ژباړه:__ او [اې پېغمبره (ص)!] مومنو ښځو ته ووايه: چې خپلې سترګې تر كنترول لاندې وساتي او د خپلو شرم ځايونو ساتنه وكړي. او خپله ځان جوړونه او سينګار دې نه ښكاره كوي، پرته له هغه چې په خپله ښكاره شي، او پر خپلو سينو دې د خپلو پوړنو پلوونه واچوي. هغوی دې سينګار له دغو خلكو پرته بل چا ته نه ښكاره كوي: مېړونه، پلرونه، د مېړه پلرونه، خپل زامن، د مېړونو زامن (بنزيان)، ورونه، وريرونه، خوريان، د خپلې طبعي ښځې، خپل مملوك، خپل هغه لاس لاندې نارينه چې ښځو ته حاجت نه لري او هغه ماشومان چې لا تر اوسه پورې د ښځو له پټو خبرو سره اشنا شوي نه وي، يعني په دغو ماشومانو كې جنسي غريزې نه وي را ژوندۍ شوي. [سورة النور : 31]*

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

**«إِنَّ الْجَارِيَةَ إِذَا حَاضَتْ لَمْ يَصْلُحْ أَنْ يُرَى مِنْهَا إلا وَجْهُهَا وَيَدَاهَا إِلَى الْمَفْصِلِ»**

*__ژباړه:__ كله چې يوه نجلۍ بلوغ ته ورسي (مياشتينى عادت يې پيل شي)، نو نه ښايي چې پرته له مخ او لاسونو تر مړونده د هغې نور ځاى وليدل شي. [رواه ابو داود]*

6. ځيني خلک د دې ښودلو هڅه كوي چې تر اسلامي دولت لاندې به د ښځو او نورو ژوند داسې وي لكه اوس په ايران كې؛ په داسې حال كې چې د ايران تئوكرات - جمهوري – پارلماني – سياسي نظام د تش په نوم "معظم رهبر" او آخوندانو لخوا اداره كېږي او په اسلامي نصوصو كې هېڅ اساس نه لري. بلكې، په اسلام كې د حكومتولۍ موډل د قرآن او سنتو لخوا روښانه تعريف شوی چې د نبوت پر منهج خلافت دى؛ خلافت يو داسې ټاكل شوی رهبر لري چې د خلكو پر وړاندې مسول دی او د تش په نوم آخوندانو د امر او دېكتې پر ځای، د قرآن او سنتو پر بنسټ حكومت كوي.

7. ايراني رژيم مطلق اقتدار غوښتونکې رهبري لري او بايد په اسلامي هېوادونو کې د نورو دېکتاتوري او نا اسلامي رژيمونو په څېر له منځه لاړ شي. هغه لاريونوال په غلطه روان دي چې د ايران راتلونکي لپاره ليبرال ارزښتونه غواړي او په دې باور لري چې ليبرال ارزښتونه د ښځو او نورو لپاره نيکمرغي راوړي. موږ په غرب او نورو ځايونو کې ليبرال دولتونه وينو چې له يوه بحران څخه په بل کې ډوبيږي او له لويو ټولنيزو او رواني ستونزو سره مخ دي. د ښځو پر وړاندې پراخ تاوتريخوالی او د کورني نظم پاشل کېدو سونامي يې بيلګې دي. په اروپايي اتحاديه کې له دريو ښځو څخه يوه يې د تاوتريخوالي قرباني شوې، همداسې له دوو څخه يوه يې جنسي تيري تجربه کړی (اروپايي کمېسيون). په فرانسه کې په هرو دريو ورځو کې يوه ښځه د خپل تېر يا اوسني ژوند-ملګري لخوا وژل کيږي ( ګارډين، ۲۰۱۹)، همداسې په امريکا کې د کورني تاوتريخوالي له امله هره ورځ نږدې درې ښځې وژل کيږي (Bureau of Justice). دا ټول د ليبرال ارزښتونو لکه فردي او جنسي آزاديو پايله ده چې نارينه د خپل فردپاله هوس او غريزې اشباع کولو ته هڅوي. همدارنګه روښانه ټولنيز ارزښتونه نشته چې د ښځې او نارينه ترمنځ اړيکه تنظيم کړي، په ټولنه او کورني ژوند کې د هغوی حقونه او مکلفيتونه روښانه کړي ترڅو په ټولنه کې د نارينه او ښځې ترمنځ د سالمې همکارۍ پر بنسټ با ارزښته او له درناوي ډکه اړيکه رامنځته شي. په ټولنه کې د ښځې او نارينه ترمنځ سالمه همکاري ده چې د اسلام ټولنيز اصول، چې حجاب يې يوه برخه ده، يې د لاسته راوړلو په لټه کې دي.

8. يوازنۍ لاره چې د ښځو او نورو لپاره په ايران يا نورو اسلامي هېوادونو کې روښانه راتلونکی رامنځته کوي، د نبوت پر منهج خلافت لخوا د اسلام پوره او سم پلي کول دي. څوک چې دا نظام سم او له ښکېلاکي افسانو او دروغو پرته مطالعه کړي، پوهيږي چې د دغه نظام تر حاکميت لاندې په ټولنه کې ښځو ته څومره درناوی شته؛ ښځې له تاوتريخوالي څخه ژغوري او د الله له لوري ورکړل شوي ټول سياسي، اقتصادي، ښوونيز، قانوني او ټولنيز حقوق يې خوندي کوي. دا هغه حقونه دي چې حکام يې تر پښو نه شي لاندې کولی؛ ځکه چې الله تعالی ورکړي. دا د سيکولر دولتونو، لکه، فرانسې، ډنمارک، بلجيم او هالنډ پر خلاف دي چې پر حجاب د بنديز په سبب يې مسلماني ښځې له خپلو ښوونيزو، اقتصادي او نورو حقونو بې برخې کړې. د مسلمانانو په توګه، بايد دا ومنو چې څو مو د خپل خالق سبحانه و تعالی احکامو، قوانينو او نظام ته پوره غاړه نه وي ايښې، نه به په دنيا کې بريالي شو او نه په اخرت کې.

**(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اتَّقُواْ اللّهَ وَابْتَغُواْ إِلَيهِ الْوَسِيلَةَ وَجَاهِدُواْ فِي سَبِيلِهِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ)**

***ژباړه:*** *اې مؤمنانو! له الله څخه ووېرېږئ او د هغه په حضور کې د مشرف کېدو وسيله ولټوئ او د هغه په لاره کې جهاد وکړئ. ښايي چې تاسې ته بريالیتوب در په برخه شي. [سوره المائده : 35]*

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**ډاکټر نسرين نواز**

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو څانګې مشره**

۲۰۲۲م کال، د سپټمبر ۲۷مه

۱۴۴۴هـ . ق، د ربیع الاول ۱